**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړی استازی
میرمن سوزان ریکو د نړیوال خوراک سازمان مشره په افغانسان کی او
ښاغلی علیم صدیق د یوناما ویاند

*کابل- د آګست د میاشتی نولسمه نیټه کال ۲۰۰۸*

## د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی

زه دلته نن د سوزان ریکو او د نړیوال خوراکي پروګرام د ملاتړ لپاره یم. زه غواړم له خپله اړخه یو څو پیلیزې خبرې وکړم. اجازه راکړئ د هغې غوښتني په اړه چې تیر کال د ۴۰۴ میلیونو ډالرو لپاره د افغانستان سره د مرستې په برخه کې ترسره شوه چې د وچکالی او د غلې د لړو حاصلاتو له امله پر بیو د اغیز لپاره وشوه وغږیږم. موږ د دونرانو سره کار کوو څو د دې بارو تر لاسه کړو چې د دې غوښتنې لپاره د پیسو ژمنه ترسره کیږي. زه همدارنګه د دې فرصت څخه په استفادې سره غواړم چې ستاسو د لارې د دونرانو څخه وغواړم چې ژر تر ژره په دې اړه د زیرمو ژمنه وکړي. او دلته زه باید و وایم چې دا نه یوازې د هغو پیسو لپاره چې باید را شي د اړتیا پوښتنه ده بلکه دا د هغو پیسو د اړتیا لپاره غوښتنه ده چې ژر تر ژره باید راشي. موږ کولای شو چې د ستونزو اغیزه هغه خت کمه کړو کله چې دونران چټک غبرګون وښایي. هر څومره ژر چې دونران غبرګون وښایي او د ډیر کړاو او ربړ لیدونکو سره مرسته وشي نو موږ کولای شو چې په دغه ژمی کې چې څو میاشتې ورته پاتې دی د ستونزو مخنیوی وکړو. موږ ټول لیدلای شو چې د بشري مرستو حالت د ډیرو زیاتو چیلنجونو او سختیو سره مخ دی او زموږ اټکل دا دی چې په سلو کې ۳۵ افغاني کورنی د خپلې اړتیا وړ ورځني خواړه نه لري. هغه مبلغ پیسې چې کورنی یې باید د خواړو لپاره مصرف کړي اوس په سلو کې د ۵۶ څخه ۸۵ ته پورته شوې دي. دا هر څه نیمګړې اټکلونه دي خو دا هغه بهیر جوتوي چې موږ ورسره مخ یو.

موږ د یوناما د اړخه هر ډول هلې ځلې کوو چې بشري اړتیاوو د پوره کولو لپاره خپل موجود ظرفیت لوړ کړو. او زه هیله کوم چې موږ خپل پرسونل زیات کړو چې وړاندوینه وکړای شو او بشري مرستې سره همغږې کړو. خو دلته اجازه راکړئ دا زیاته کړم، کله چې موږ ګورو چې د خوراکي توکو کتارونه تر برید لاندې راځي او خوراکي توکي غلا کیږي نو دا یواځې د کتارونو څخه د خوراکي توکو غلا نه ده بلکې د هغه چا څخه د خواړو غلا ده چې ورته زیاته اړ دي. او دا د بې وزلو او فقیرانو څخه غلا ده. او کله چې د خوراکي توکو کتارونه د وسله والو ډلو له خوا تر برید لاندې راځي نو دا یوازې د خوراکي توکو په کتارونو باندې برید نه دی بلکې دا د هیواد په بې وزلو وګړو باندې برید دی. زه نه شم لیدلای چې دا عمل به د کوم اړخ څخه پر حقه ثابت کړای شي. نو زه ځکه د هغو کسانو څخه غوښتنه کوم چې دغه ډول بریدونه کوي د بې وزلو کسانو څخه غلا کول ودروي او فقیر وګړي تر برید لاندې و نه نیسي.

موږ همدارنګه پر ملکي او نظامي لارښودونو باندې د ټیرو څو اونیو را په دې خوا کار کوو او دا په دغه بهیر کې د اړوندو کسانو په ګډون جوړ شوي دي. او دا کار په دې موخه ترسره کیږي: خو دا جوته شي چې موږ ټول ډیرې مختلفې او جلا، جلا دندې لرو دا باوري ده چې په دې واقعیت ټول پوهیږي چې د بشري مرستو په اړه پوهاوی شته او دا چې بشر دوستانه موسسي په خالصه توګه بشر دوستانه دنده ترسره کوي او زه خوښ یم چې په نظامي برخه کې، حکومت کې او په غیر دولتي موسسو کې ډیرو کسان دې ته ژمن شوي دي.

اجازه راکړئ په پای کې ووایم چې موږ د کابل د پولي تخنیک په پوهنتون کې د سپتمبر د ۲۱ نیټې د سولې د ورځې لپاره برعکس شمیرنه پیل کړله اوس ۳۳ ورځې پاتې دي. او موږ د ټاسو څخه یو ځل بیا غواړو چې په افغانستان کې د هر چا سره په دې اړه مفاهمه وکړئ چې زموږ سره په دې بهیر کې مرسته وکړي ا ود سپتمبر د ۲۱ نیټې چې د سولې ورځ ده درناوي وکړي. موږ د وړاندې څخه د دې بهیر لپاره همکاران لرو چې په هغو کې د سولې لپاره د افغانستان د مدني بنسټونو شبکه چې په کې د ۱۰۰ څخه زیاتې موسسې شاملې دي د یادونې وړ ده او په دې توګه موږ د بنه انسجام هیله لرو چې په دې بهیر کې هغه ټول کسان شامل وي چې د سولې لپاره کار کوي. مننه

## نړیوال خوراکي پروګرام

زه فکرنه کوم چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازی څخه زیات فصیح او روښانه وینا ولرم چې د ټولو اړتیاوو او یا دا چې امنیتي پیښې د هغو کسانو په ژوند چې زموږ مرستو ته اړ دي څومره اغیزه لري معلومات درکړم. نړیوال خوراکي پروګرام په افغانستان کې د څو لسیزو راهیسې کار کوي . موږ له هغو کلونو راهیسې ښه وختونه لیدلي دي، او همدا اوس د دغو ناوړه وختونو څخه چې افغانان ورسره پخپل ژوند کې مخامخ دي تیریږو. نه یوازې افغانان دي چې په دغو دریو لسیزو کې د پرمختیاوو څخه محروم پاتې دي بلکې د وچکالی او په نړیواله کچه د خوراکي تکو د لوړو بیو سره مخ دی. د پنځو میلیونو څخه زیات افغانان چې یو کال تر مخه یې کولای شول ځانته خواړه برابر کړي اوس مرستو ته اړ دي. نارینه او ښځې په کلیوالو او ښاري سیمو کې نه شي کولای د ځان او کورنیو لپاره خوراکي توکي برابر کړي.

ډيرې کليوالي ټولنې چې د باران سره يې کرنه تړاو لري اوس د دې خطر ويني چې سږ کال به وچکالي وي. په سلګونو زره ماشومان چې عمرونه يې د پنځو کلونو راټيټ دي د خپلو ميندو سره به ددې توان و نه لري چې د هغوي خوراکي اړتياوې پوره کړي او په دې توګه د راتلونکي پرمختيا څخه محروم پاتې کيږي. د افغانستان دولت او ملګري ملتونو يوه غوښتنه وکړه څو دغو اړتياوو ته ځواب وويل شي. او نه يوازې نړيوال خوراکي پروګرام دې ته رابلل شوی دی چې د پنځوو ميلينو وګړو سره مرسته ترسره شي بلکې تر ټولو مهمه دا ده چې دغه غوښتنه کې د پاکو اوبو لپاره د ښو زيرمو د برابرولو په ستونزه هم ټينګار شوی دی. په غوښتنه کې همدارنګه د کرنې په ډګر کې د چټکو او بيړنيو اړتياوو د پوره کولو خوا ته هم توجه اړول شوې ده: بايد يوازې په دې فکر و نه کړو چې نن موږ څه ته اړتيا لرو بلکه په دې هم فکر وکړو چې د سبا لپاره څه جوړولای شو.

نړيوال خوراکي پروګرام د دې غوښتنه کوي چې دونران بايد سل زره متريک ټنه خواړه برابر کړي چې په راتلونکو شپږو مياشتو په افغانستان کې ورته زياته اړتيا لري. او موږ د نړيوالې ټولنې څخه غواړو چې زموږ سره مرسته وکړي څو د مرستو لپاره خوندي چاپيريال ولرو.

## پوښتنې او ځوابونه

**اسوشيټيد پريس:** آيا تاسو پخپله کولای شئ په هيواد کې د جګړې اوسنې وضيعت و ارزوئ او تاسو د ملګرو ملتونو په توګه څنګه کولای شي چې د دښمنۍ د کچې په راکمولو کې مرسته وکړئ. دوهم، تاسو د مخه وويل چې تاسو تيره اونۍ وکولای شواى يو ملکی- پوځی تړون تر لاسه کړي، آيا دا په دې مانا ده چې تاسو د ولايتي بيا رغونې د ټيمونو څخه وغوښتل چې بشري مرستې نورې ودروي او يا پوځ ستاسو په تړون کې ښکيل نه دی؟

**د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی:** د امنيتي وضيعت په اړه چې کومه پوښتنه تاسو مطرح کړه بايد وويل شي چې امنيتي وضيعت يوازې د چيلنج وړ نه بلکه لا هم ستونزمن کيږي. که چيرې تاسو د مې، جون او جولای د مياشتو شميرونو ته نظر وکړي نو ليدل کيږي چې د امنيتي پيښو په شمير کې زياتوالی راغلی دی. په دې کې هيڅ شک نشته چې دا وضيعت زموږ لپاره د ډيرې انديښنې وړ دی.

موږ په اوس حال کې په ځينو لومړيتوبنو چې موږ باور لرو د اهميت وړ دی، تمرکز کوو. ځينې لومړيتوبونو د جون په مياشت کې د پاريس په کنفرانس کې مطرح شول. زه فکر کوم چې موږ بايد په ريښتيا سره په بشري مسايلو تمرکز وکړو، خو اجازه راکړئ و وايم چې د نا اميدی د حالت څخه بايد ډير ژر د خوشبينی حات ته روان شو.

زه فکر کوم چې دا پدې ماناه وه چې موږ د پخوا په پرتله يوه روښه اجنډا تعقيبوو. زه فکر کوم چې دا اجنډا تر زياته حده د پاريس په کنفرانس کې منعکسه شوې. زه باور لرم که چيرې موږ ټول افغان حکومت او نړيواله ټولنه په ريښتيا سره د دې ستراتيژۍ تر شا ودريږو نو بيا به دا اجنډا يوه خوشبينه طرف ته حرکت وکړي. اجازه راکړی ستاسو پام د دې ستراتيژۍ ځينو لومړيتوبونو ته را واړوم. موږ ژمن يو تر څو مرستې په موثره توګه ولګوو. د دې کار لپاره چټکه اړتيا ليدل کيږي ځکه چې په دې سره به افغانان وکولای شي چې د سرچينو زياتې او ښې پايلې و وينې. د اداري فساد سره د مبارزې په موخه د ښو ادارو د جوړولو لپاره ضرورت ليدل کيږي او خلک بايد و وينې چې دا اداري خدمتونه رسولای شي او د پراختيايې، امنيتی او يا هم بشري خدمتونه درسولو لپاره ور باندې اعتماد وکړی.

زه فکر کوم اوس دا د پام وړ دی چې موږ په واضح توګه اجنډا برابره کړې، ځکه که چيرې موږ اوس اقدام و نه کړو، نو دلته خطر موجود دی چې موږ ټول به دې ته دوام ورکړو لکه څنګه چې موږ تر اوسه دوام ورکړی. که چيرې موږ دې کار ته د پخوا په شان دوام ورکړو نو زه فکر کوم چې موږ به د نا اميدی د حالت ليرې نه نکړی او د د پر ځآی دريدنې خوا ته به حرکت وکړي.

په عمومي اصطلاح کې د ملکی- پوځي طرز العملونو په حواله: دا به ډيره مهمه وي که چيرې ټول فعالين بشري سازمانونو ته د بشري سازمانونو په سترګه وګوري، او د بشري اجنډا څخه پرته د نورو اجنډا ګانو سره

ګډ نه کړي. دا زما لپاره ډېره مهمه ده چې بشري مرستې باید په هر ډول شرایطو کې د سیاسي وسیلې په حیث و نه کارول شي.

دا زما لپاره مهمه ده چې بشري مرستې د زړونو او فکرونو د ګټلو لپاره و نه کارول شي، لکه څنګه چې د هغو ګډون کوونکو له خوا څخه ورته اشاره شوې. دا مهمه ده چې بشري مرستو ته د هغه څه په سترګه وکتل شي څه چې په ظاهر کې دي: بشري مرستې هغه څڅې دی چې غواړي زیاتو اړینو خلکو ته ورسیږي او نور ټول ملاحظات باید بل اړخ ته پرېښودل شي.

**اریانا تلویزیون:** د افغانستان حکومت د نرخونو د لوړوالی په هکله په وار وار خپلې اندېښنې څرګندې کړې او په دې هکله یې د مرستو د جلب غوښتنه کړې. که چیرې دا مرستې د افغانستان حکومت ته په وخت سره و نه رسیږي، تاسو فکر نه کوئ چې هیواد به د یوه بشري بحران سره مخامخ شي؟ دومه پوښتنه، د نړیوال خوراکي پروګرام په کاروانونو بریدونه ترسره کیږي، ویل کیږي چې وسله والې ډلې او ځايي قومندانان چې په ځايي قومونو او ټولنه پورې تړلې دی، دا کار د پیسو د لاس ته راوړلو په موخه ترسره کوي.

**نړیوال خوراکي پروګرام:** زه تمه لرم چې موږ به پدې اړه د تمویل کوونکو هیوادونو څخه چټک او باوري غبرګون تر لاسه کړو ترڅو دا په یوه بشري بحران تبدیل نه شي. خو د هغه چا لپاره چې وږی وي دا مطرح نه دی چې دا یوه بشري ستونزه ده، دا د هغه یا هغې او د هغوي د ماشومانو په ژوند کې یو بحران دی او دا هغه څه دی چې مطرح دي. دا هغه موضوع نه ده چې موږ یې په نړیوالو او داخلی رسنیو کې مطرح کوو، دا د نږدې ۵ میلیونو افغانانو د ورځنی ژوند مسله ده، دا هغه موضوع ده چې باید موږ په دې اړه فکر وکړو.

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی وویل:** موږ د امنیت د مسلی لاندې کوښښ کوو چې د بریدونو تر شا عاملین پیدا کړو، دا مهمه نه ده چې د دې بریدونو عاملین څوک دي، مهمه دا ده چې دا خلک به غلا شوی غذای توکی تر لاسه نه کړي او هغه خلک زما لپاره مطرح دي.

**ایرن:** آیا کولای شي د غوښتنې په اړه چې کوم غبرګون د تمویل کوونکو لخوا ترسره شوی دی، معلومات راکړئ، دوهم، آیا تمویل کوونکي ولې دومره سوکه دي. د جنوری په میاشت کې چې کله لومړی غوښتنه پیل شوه، نو دا په یو ډول د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ سره ونښلول شو، او ځینو تمویل کوونکو وویل چې د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ سره یې مرسته کړې او اوس د برابرولو لپاره نورې پیسې نه لري.

**د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی:** اجازه راکړئ و وایم چې اوس موږ د یوه چټک غبرګون تمه لرو، او له دې کبله موږ دا غوښتنه پیل کړ. اجازه راکړئ و وایم چې موږ د جنوری په میاشت کې د خوراکي توکو یوه غوښتنه کړې ده. موږ د پاریس په کنفرانس کې د سرچینو د پراخولو په موخه د افغانستان د پراختیایي ستراتیژۍ تر عنوان لاندې هڅې راوني کړې چې په نتیجه کې یې موږ ۲۰ میلیارده ډالره را ټول کړل.

دریم او په دې اړه مهم ټکی: دا بحران یوازې افغانستان نه متاثره کوي، د نړۍ په کچه یو شمیر هیوادونه د دې بحران سره مخامخ دي. زموږ دنده دا ده چې افغانستان ته پاملرنه وکړو او ځان یقیني کړو چې دد ې غوښتنې په هکله چټک غبرګون تر لاسه کړو.

**افغانستان ټایمز:** تاسو د امنیتي وضیعت او د وسله والو لخوا څخه د کاروانونو د غلا په هکله اندیښنه لرې. آیا تاسو د افغان حکومت، ناټو او ایساف ځواکونو څخه په سړکونو د دې کاروانونو د بشپړی ساتنې په موخه غوښتنه کړې.

**د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی:** دا مهمه ده چې موږ پوځي او بشری مرستې سره ګډې نکړو. د مرستو د بشری کاروانونو درناوی باید وشي، او موږ هڅه کوو چې د پوځی- بشري مرستو تر منځ یوه واضح کرښه تیره کړو.

د بشري کاروانونو لپاره باید درناوی وشي کله چې په دې پوهیږو چې په هغو کې څه بار دي. دغه کاروانونه د بشر پالنې مرسته انتقالوي. دا زموږ لپاره هم د ملکي- پوځي لارښودونو په د ننه کې مهم ده چې توپیر وکړو

او د بیلا بیلو فعالیتونو تر منځ لاره ورکه نه کړو. موږ د یوه پوځي کمپاین یوه برخه نه یو، موږ د بشر پالنې کار کوو او دغه تشخیص باید وساتل شي او څه چې موږ کوو هغه دا دي، چې لا ډیرې هڅې وکړو څو هر څوک په دې پوه شي چې دا هغه څه دي او دا چې د توپیر او تشخیص کولو کرښه څرګنده ده. موږ د پوځ په استازیتوب عمل نه کوو او نه د کوم دولت په استازیتوب. موږ د هغو د خلکو په استازیتبو عمل کوو چې مرستې ته اړتیا لري.

نړیوال خوراکي پروګرام په واقعیت کې د کورنیو چارو له وزارت سره کار کوي چې د هغو سوداګیریزو کاروانونو لپاره زیاتره منظم خوندیتوب چمتو کړي چې له خطرناکو سیمو څخه تیریږي او دا د هغو ځانګړیو امنیتي پیښو د لړۍ په وړاندې غبرګون و چې په حلقوي سړک باندې او همدارنګه په نورو ځایونو کې هم منځ ته راغلي دي. له بده مرغه له هغه وخته راهیسې چې د کورنیو چارو له وزارت سره موافقې ته ورسیدو، تر اوسه پورې کافي اندازه خواړه نه لرو چې انتقال یې کړو او د ساتنې یو نوي پلان ترتیب کړو. نو له دې کبله زه له مرستندویانو څخه هیله کوم چې ډیر خواړه راته برابر کړي چې موږ وکولای شو هغه اوس انتقال کړو.

او زه باور کوم چې هغه په زیات خوندیتوب سره په یوه خوندي لاره هغو خلکو ته ورسوو چې مرستې ته اړ دي. لاکن په پای کې خبره دا نه ده چې موږ به د خپلو کاروانونو لپاره څومره د پولیسو بدرګه لرو. دغه رسول شوي خوراکي توکي به هغه ورځ خوندي وي، کله چې موږ ټول په دې وپوهیږو چې دغه کاروانونه به د میلیونونو افغانانو اړتیاوې پوره کوي. موږ دې ته اړتیا لرو یوه عمومي پوهاوي او درک او موافقه ولرو چې د بشر پالنې کاروان ته اجازه ورکړي چې له هر ډول سیمې څخه تیر شي او هغو خلکو ته ورسږي چې دغې مرستې ته اړتیا لري.

**بی بی سی:** موږ د بشرپالنې د مرستې د لومړیتوب خبره بیا بیا اورو، خو آیا ولې په افغانستان کې د بشري مرستې د همغږۍ لپاره هیڅ کوم دفتر نشته؟

**د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی:** د یو داسې ګډ او یو ځایې پلاوی د منځ ته راوړلو لپاره پریکړه شوې ده. او دا تصمیم د یو څه وخت په اوږدو کې تر بحث کولو وروسته نیول شوی دی. او اجازه راکړئ و وایم چې زما لپاره دا لومړیتوب نه لري چې د جوړښتونو په باب بحث وکړو بلکې دا ده چې لومړی ټوله بشري مرسته په حرکت راولو چې ورته اړتیا لرو او دوهم هغه کارمندان چې موږ ورته اړتیا لرو ترڅو د بشري مرستې له ایجاباتو سره هغسې چلند وکړي چې د ملګرو ملتونو له نظره لیدل کیږي او زه په دغې موضوع په شدت سره کار کوم او همدارنګه د یو شمیر انجوګانو او د نیویارک د مرکزي دفتر له لارې څو په دې پوه شو چې نه یوازې په ۲۰۰۹ کې د خپل پلاوی لپاره بودجه لرو، بلکې په ډیر اهمیت سره موږ کولای شو هڅه وکړو او د انجوګانو له لارې په لنډ مهاله توګه د حل لارې ومومو او د ځینو ځانګړیو دولتو مرسته کولای شي موږ په دې وتوانوي، چې دا ډول کارمندان په چټکۍ سره په خپل پلاوي کې را ګډ کړو. زه فکر کوم د هغو بحثونو په تعقیب چې پرون وشول زه باور لرم دولتونه به موږ ته هغه زیرمې په لاس راکړي چې موږ د دا ډول لنډ مهاله تدبیرونو لپاره ورته اړتیا لرو، او زه به له همدې وخت څخه وروسته دغو بحثونو ته له ځینو حکومتونو او استازیو سره دوام ورکړم. او بیا نو د کارمندانو د چټک استخدامولو پوښتنه رامنځ ته کیږي او تاسې ته معلومه ده چې په یوه داسې امنیتي چاپیریال کې لکه چې موږ په کې اوسیږو دا تل یوه ننګوونکې خبره ده.

**طلوع تلویزیون:** که چیرې دونران د ملګرو ملتونو او د افغانستان د دولت ګډې غوښتنې ته ځواب ور نه کړي ایا دغو پنځه میلیونه افغانانو ته به څه پیښ شي او دوی دا چې ستاسو د خوړو کاروانونه حتی په خوندي سیمو کې تر برید لاندې راځي، نو څرنګه به وکولای شئ چې په نا امنه سیمو کې خواړه خلکو ته ورسوئ؟

**نړیوال خوراکي پروګرام:** دونران به دا کار وکړي او غبرګون ښيي. موږ لا د وخته د برتانیې د سلطنت مثبت ځواب تر لاسه کړی او یو شمیر نورې مرستې تر بحث لاندې دي، چې زه نشم کولای د هغو بحث وکړم ځکه د دغو ونډو ژمنه لا نه ده شوې او تایید شوی لا نه دی. زه باور لرم چې پوره اندازه غبرګون به ولرو. نړیوال خوراکي پروګرام په افغانستان کې د رغونې د فعالیتونو په ملاتړ د کار نورمال پروګرام لري. د دې لپاره چې د زیاتو بیړنیو اړتیاوو په وړاندې غبرګون وښیو، موږ به له هغو خوړو څخه کار وخلو چې د رغیدنې د دغو فعالیتونو لپاره یې لرو.

ما په دا تیر اوونۍ کې له پاکستان څخه یو پور تر لاسه کړ چې ما ژمنه کړې وه د کال تر پای ته رسیدو د مخه یې بیرته ادا کړم او هغه خواړه چې موږ به یې له پاکستان څخه لاس ته راوړو موږ ته به د دې امکان راکړي چې زیرمه یې کړو چې په دې توګه به د هغو سیمو خلک تر ژمي د مخه دغه خواړه لاس ته راوړي چې موږ ورته لاس رسی نه لرو.

او دا خبره چې بریدونه چیرې پیښیږي. دا بریدونه دوام لري او د هیواد په هر ځای کې پیښیږي او بیا هم مهمه خبره دا ده چې فکر وشي- آیا د دغو بریدونو پایلې څه دي؟ موږ به مجرمین د قانون په بشپړ ځواک سره تعقیب کړو. موږ به عدالت وغواړو. خو د هغه چا لپاره هیڅ عدالت هم نشته په کومه ورځ چې هغه د خوړو په تمه و او لاس ته یې را نه وړل- دا هغه غوښتنه ده چې زه به یې عامه وګړو ته وړاندې کړم د دې لپاره چې داډ تر لاسه شي دغه بریدونه بندیږي څو په دې توګه خکله دغه مرتسه لاس ته راوړي کله چې ورته اړتیا لری. د یوې میرمنې او یا کونډې لپاره چې شپږ ماشومان لري په یوه وړکتون کې تر یوې میاشتې کار کولو وروسته او یا د یوه نارینه لپاره چې په یوه جریب ځمکه باندې مجبورې دی یوه بنځیدلې کورنۍ مړه کړي، دا مهمه نه ده چې څوک د همغږي کار کوي، دا مهمه نه ده چې څوک د یوې حملې مسوول دی. څه چې مهم دی هغه دا دي، چې هغوي د مرستې تر لاسه کولو ته اړتیا لري.

**د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی**: ددې لپاره چې دغه ستونزې حل کړو چې موږ هغو خلکو ته د خوړو په رسولو کې ورسره مخامخ یو چې خورا اړ دي، د دې لباره اړتیا ده چې هر څوک په دې پوه شي چې هغه څه چې پیښیږي، د خورا نیستمنو خلکو په وړاندې جنایت او جرم دی. موږ همدارنګه اړتیا لرو چې د ټولنې زیاته برخه په دې توګه په خوځښت راولو او مړ غواړو چې رسنۍ په خوځښت راولو. موږ غواړو چې ځایي ټولنې په خوځښت راولو، شوراګانې، مذهبې مشران او داسې نور. او دغه شوراګانې چې دا ډول اعمال وغندي، او داسې نظریه رامنځ ته کړې چې د دغه ډول بریدونو په وړاندې قوي او با ثباته وي.

**بی بی سی**: دغه د غوښتنې د ۴۰۴ میلیون ډالرو عدد: آیا تاسو تر اوسه پورې څومره لاس ته راوړې دي او یا یې ژمنه شوې ده او تاسې د ۱۰۰،۰۰۰ ټنو په باب خبرې کوئ. آیا دغه په غوښتنه کې شامله ده؟

**نړیوال خوراکي پروګرام**: هو، دغه ۱۰۰،۰۰۰ ټنه د لومړیو څو میاشتو د اړتیا په غوښتنه کې شامل دي. د ۴۰۴ میلیون د غوښتنې څخه به د راتلونکی کال لپاره نړیوال خوراکي پروګرام د خوړو په منظور ۱۸۵ میلیون ډالرو ته اړتیا ولري. د غوښتنې د پاتې برخې په اړوند به تر ممکن حده پورې غبرګون وښودل شي ځکه چې د یو څه زیات مثبت نظر په پام کې نیولو سره او د یوه توانوونکی چاپیریال د رامنځ ته کولوپه هیله سره، نو بیا افغانان هر کال مرستې ته اړتیا نه لري. موږ هغه څه ته اړتیا لرو چې د اوبو د زیرمو او کرنې لپاره دي، نو له دې کبله د غوښتنې دغه برخه عینا دغومره اهمیت لري لکه د افغانانو د بیړنیو اړتیاوو په وړاندې غبرګون ښودل. لکه چې ما وویل، نړیوال خوراکي پروګرام لا د وخته له برتانې څخه ژمنه تر لاسه کړې ده او یو شمیر نور برخه اخیستونکی تر غور لاندې لاري او کله چې هغه تائید شوې،موږ به یې رسنیو ته اعلان کړو.